# د افغانستان اسلامي امارت

## د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت

### دفتر رياست

### د تحريراتو او پذيرش آمريت

د وړانديز ګڼه: (۵۰)

نېټه ۲۴/ ۳ /۱۴۴۷

| د وړانديز متن | حکم |
|---|---|
| بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ<br><br>**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت درانه عالي مقــام ته!**<br><br>**السَّلامُ عَلَيْكُم ورَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ؛**<br><br>**الله تعالى (جل جلاله) مو صحت او د دارينو سعادت نصيب ګړه! (آمين)**<br><br>وبعد: د ترانســپورت او هوايي چلند وزارت د هغه پروژو د انوايســونو د تاديه کولو لپاره چې ارزښت يې د شلو ميليونو افغانيو څخه لوړ دی،د کار د فزيکي پيشرفت په نظر کې نيولو سره د (۲۵)سلنې څخه (۱۰)سلنې ته د تعديل غوښتنه د خپل ۲۱۷ نمبر وړانديز په اساس په ۱۴۴۶/۱۲/۰۵ نېټه، چې د( ) پروژو جدول هم ورسره ضميمه وو ، ستا سو عالي مقام ته ښکاره کړې وه، د دې لپاره چې د قراردادي شرکتونو له لوري په کارونو کې د ځنډ څخه مخنيوی وشي.<br><br>د ياد وړانديز په ځواب کنبــې ستا سو عالي مقام د ۱۴۴۶/۱۲/۲۰ نېټې؛ ۵۳۸۵ شــمېره مکتوب په ا ساس، دغه وزارت په هغه تړونونو کې چې ارزښــت يې له ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ شل ميليونو افغانيو څخه لوړ دی په انوايســونو کې حوالې له ۲۵ سلنې څخه ۱۰ سلنې ته تعديل ترسره کړ او دماليې محترم وزارت ته مو ورو ستيو کړنو په موخه وا ستولې، ياد وزارت زمونږ د مالي برخې د مسؤلينو سره د مجلس په نتيجه کنبــې غوښــتنه کړېده چې د اقتصــادي درانه معاونيت حکم ته د ياد تعديل په اړوند ضرورت دی.داچې ستا سو عالي مقام د دفتر ريا ست لخوا په مخکيني راليږل شــوي مکتوب کنبــې د ماليې محترم وزارت لپاره لازم وضاحت نه وو حاصل شوی نو په ډېر درنښت موضوع ستاسو عالي مقام ته د بيا ځل لپاره وړانديز کوو،هيله ده په ماليه محترم وزارت د يادو تعديلاتو او حوالو د جراء حکم د ضميمه جدول په نظر کې نيولو سره څرنګه چې منا سبه ګڼي،راکړي.بيا هم ستا سو هر حکم او هدايت مونږ ته قبول او منظور دی.والسلام<br><br>ضمايم:په (۱) پاڼو کې.<br><br>**الحاج ملا حميد الله آخندزاده**<br>**د ترانسپورت او هـوايي چلـند وزيـــر**<br><br>۱۴۴۷_۳_۲۶ | د حکم شمیره: ۲۰۲۹ ع<br>صدور نیټه: ۱۴۴۷-۳-۲۴<br>صدور نیټه: ۱۴۰۴-۶-۲۶<br><br>- وکیل سو -<br>۲۲_۳_۱۴۴۷ هق<br><br>وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!<br><br>د وړاندیز د متن مطابق د ضمیمه جدول هغه پروژې چې د ملي تدارکاتو کمیسیون څخه منظوري اخیستې وي، پر استثنائي جدول منظور ده.<br><br>وعلیکم<br>۱۴۴۷<br><br>الحاج ملا عبدالغني برادر اخند<br>د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال |

د ریاست الوزراء محترم اقتصادي معاون صاحب ته

قید وارده ۱۳۰۱ ع
۱۴۴۷_۳_۲۴